مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباری جهانی

۲۰۲۲/۰۱/۱۱

# غزل

په مالت کي خاموشي سوه وخت د جام سو
هم پر شمع هم پانوس باندي ماښام سو
په سراب کي دي په زړه سوم لاس دي جارسم
ساقي نن دي زما نوبت ته ښکه پام سو
د جانان د کوخي لوری مو قبله ده
هسی نه چي په پردی سجده بد نام سو
نن مي شيخ د ميخاني پر لاري وليد
د خلوت له الاهو ښخه سرسام سو
قصيده چي مي ليکل پر انارکلو
د ښادي د ځواني ميني دلارام سو
له نسيم سره زګيروی د جانان راغی
په غزل کي مي هر توری نا آرام سو
د پاوليو د پايلو شرنګ به نه وي
محتسب مو پر منبر باندي امام سو
بي هنرو دي د ښار کوخي نيولي
هر يو سيوری د رباب نغمي ته دام سو
د غزل تر زړه دي نن ويني ښخيږي
شمع مړه سوه جهاني محفل تمام سو

د ۲۰۲۱ کال د جنوري لسمه ويرجينيا.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ